# کورنی ژوند

یو له مشهورو علماوو څخه د مصر یوه شپه د برغ خپرونکي (راډیو) په ذریعه له لندن څخه تبلیغ کاوه او موضوع د بحث یې دا وه، چې (المحمد في بیته) یعني حضرت محمد پخپل کور کې، دې نامتو عالم هغه صحیح اسناد او ټینګ احادیث رانقل کړل، چې مسلمانانو ته یې د خپل لوی او عظیم الشان استازي (رسول) کورنی ژوندون او ښه اخلاق ښووله.

دې عالم وویله، چې:

د کورنۍ اصلاح د ټولني (مجتمع) اصلاح ده، د اجتماعي سمولو لومړنۍ سته هم دغه ده، چې کورنۍ اصلاح سي او هغه ټولي ښېګڼي چې د یوې کورنۍ د سمون لپاره سته پکښې ومیندلي سي.

د اجتماع د علم پوهانو هره کورنۍ او یو کهول داسي ګڼلی دئ، لکه یو هیواد (مملکت) چې د یوه منظم حکومت تر سیوري لاندي په ښه ډول اداره کېږي او ژوندون کوي.

لکه د مملکت د ادارې لپاره چې ځیني اصول او لاري په کار دي، دغسي هم د کورنیو د اصلاح لپاره ځیني مخصوص قواعد او آداب سته، چې په هغو سره به کهولونه اصلاح کېږي، او د هر چا کورنی ژوندون په سمېږي. چې کورونه او کهولونه اصلاح سي او هر څوک پخپل کور کي ښه ژوندون ولري، او تر ښو اخلاقو لاندي د ژوندون ورځي تېري کي، نو ښکاره ده، چې په داسي کور کي صحیح سړي روزل کېږي او داسي وګړي ځني راوزي، چې بیا د ولس و ټولني ته هم ښه خدمتونه کولای سي او د خپل ولس یو غښتلی او فعال سړی کېدای سي.

هر ولس او ملت ځانته د کورني ژوندون مخصوص اصول او ډولونه لري، مګر که موږ غور وکړو زموږ لوی استاځي داسي د کورني ژوندون صحیح او سم درسونه موږ ته پرې ایښي دي، چې بل هیڅوک یې نه لري، هغه اخلاق فاضله او حسنه چې د دوی په کورني ژوندون کي د سیر نبوي لیکونکو راغونډ کړي دي بهترین د اصولو د دنیا دي.

د ولس د اتفاق او یووالي مظهر لومړی پلا کورنۍ ده، د یوه کهول سړي که پخپله کورنۍ کي د ښو اخلاقو او پاکو دودونو په سیوري وروزل سي په دوی کي د مطلب اتحاد میندل کېږي، او وروسته نو دغه روح په ولس کي هم بشپړه اغېزه کوي، څو چې د کهول ښه اخلاق او ښه رشي په ولس کي هم خپرېږي او ټوله ولس د کورني سمون له خوا و اجتماعي او ټولني سمون ته مخه کوي.

زموږ لوی استازي و مسلمانانو ته د کورني ژوندون ښه اصول او ځلان آداب او اخلاق پرې ایښي دي، دوی تل د خپلي کورنۍ سره په ورین تندي، ښو اخلاقو، په مینه او محبت ژوندون کاوه، لکه د کور نور چا چې به کار کاوه، دوی هم پخپله په دغه کي برخه درلوده، غېلي به یې روزلې، خپل کالي به یې ګنډل او د هر چا سره به یې په کور کي کومک کاوه.

د ښځو حقوق او جذبات یې ساتل، د کوچنوټو سره یې په نمنځنه او الطاف ژواک کاوه، هغه چې یې پر ځان پېرزو وه، پر نورو یې هم پېرزو درلوده، په کور کي به یې اسباب د سرور او خوښۍ ټوله مهیا کول، په دې ډول دوی داسي سمه لار او ښه اخلاق مسلمانانو ته د کورني ژوندون لپاره ښوولي دي، که مسلمانان په هغه عمل وکي یا د خپل پېشوا 0 پر لار ولاړ سي، ښکاره ده چې هر چا ته به خپل کور د مسرت او خوښۍ ځای وي، او کهولونه به په ښه ډول اصلاح سي، چې کهولونه اصلاح سوه اجتماع هم اصلاح کېږي.

زموږ پښتنو کورنی ژوندون ډېر نواقص او معایب لري، اکثر سړي د خپله کورني ژوندونه دومره په عذاب وي، چې

ځني تښتي، حال دا چي کور د انسان د راحت او مسرت ځای دئ، نه د عذاب او ویر.

نو که موږ یو وار خپل دیني اصول وګورو او نبوي اخلاقو ته یوه کتنه وکو او دغه ځلان او مقدس اصول عملي کو، ښایي چي زموږ کورنی ژوندون دي په ښه ډول سم سي.

نن ورځ مدني ملتو زموږ دغه اسلامي میراث راځخه لاندي کړی دئ او زموږ ښه اخلاق او ښېګڼې یې پخپل ژوندون کي عملي کړي دي، وینو چي دوی ډېر لوړ سوي دي.

ځکه چي دا ښه اخلاق او د لوړتیا سمه لار، زموږ د پلرو میراث دئ نو موږ احق یو چي دغه واخلو.

طلوع افغان، ۱۳۱۷ ش کال، ۲۱ ګڼه، لومړي مخ.